هاري

واشنگټن ۳۱/۰۵/۲۰۰۹

# آیا خلیلزاد به ځل بیا د افغانستان وایسروي سي؟

د نیویارک ټایمز اخبار د مي پر ۱۸ خبر ورکړ چي ښاغلي زلمی خلیلزاد په افغانستان کي د کرزي سره په حکومت کي شریک سي. د نیویارک ټایمز دې خبر په افغاني او بین المللي مطبوعاتو کي ښاېسته زیات زوږ او عکس العملونه ایجاد کړل. د اکثرو مبصرینو تبصرې پر دې ټکي را څرخېدې چي ګواکي کیسه ختمه ده، او د اوباما حکومت دي فیصلي ته رسېدلی دی چي کرزی وساتي او خلیلزاد یو ځل بیا کابل ته د متحده ایالاتو د وایسروي په حیث ولېږي. په بل عبارت، ښاغلی اوباما غواړي چي یوه زړه" استعماري" لوبه بیا تکرار کړي. دغه راز، ځینو مبصرینو ویلي وو چي اوباما پوهېږي چي په کرزي څه نده جوړه، نو بنا شارلتان خلیلزاد چي د بوش په پېر کي يې هم د وایسروي دنده درلوده یو ځل بیا وازموي. ددغو مبصرینو په ګومان خلیلزاد به وکړای سي چي د افغانستان لپاره د امریکا استعماري پالیسي ښه منظمه کاندي. خو زه لدې تبصرو سره موافق نه یم، او خپل دلایل به دلته د محترمو لوستونکو سره شریک کړم.

د نیویارک ټایمز د رپوټ په اساس به د خلیلزاد رسمي مقام صدراعظم ته ورته یو اجرایوي مقتدر پوسټ وي. د ورځپاڼي په وینا دا نوی مقام به پارلمان ته مسولیت و نلري. کرزي به تش په نامه جمهورریس وي، او اداري کارونه او مسولیتونه به د خلیلزاد په صلاحیت کي وي. کرزي به د کابلیان په اصطلاح "مولي" غوندي ناست وي، او ګرده ورځ به په ارګ د ډېر بېکارۍ له وجي مېږیان سره جنګوي.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي د اجرایوي پوسټ د خلقولو نظریه لمړی د برتانیي صدراعظم ګولډن براون وړاندي کړې وه. کله چي کرزی واشنګټن ته راغلی، هغه همدا مفکوره د متحده ایالاتو د بهرینو چارو د وزیري مېرمن کلنټن او ښاغلي هولبروک سره شریکه کړه. اخبار زیاتوي چي هغوی په ښکاره د کرزي د دې وړاندیز سره مخالفت و نه کړ، او ورته وې ویل چي دا ستا او خلیلزاد خپلمنځي مسله ده. په بل عبارت، موږ پدې معامله کي ګډون نه غواړو. اخبار لیکي د متحده ایالاتو مقامات ټینګار کوي چي د خلیلزاد د صدارت مفکوره دوی نده وړاندي کړې.

اوس نو، ولي کرزي دا مفکوره په واشنګټن کي د امریکایي مقاماتو سره شریکه کړه؟ زما اټکل دا دی څرنګه چي کرزی له ازله پیاده سړی دی، او په خوب کي یې هم د جمهوري ریاست مقام نوو لېدلی. خو بخت یاري ورسره وکړه، یو چانس برابر سو، او هغه د امریکا په زور د جمهوري ریاست مقام ته ورسېد. خو څرنګه چي اوس په متحده ایالاتو او بین المللي ټولنه کي د کرزي اعتبار سخته صدمه لېدلي ده، او بلخوا د هغه پخواني نیوکان یاران هم ګوښه چیرته په غارونو او سمڅو کي پټ دي، نو بنا کرزی کوښښ کوي چي په هره وسیله، چم، او ټګماري چي وي خپل مقام وساتي. هغه چمتو دی چي خپل ټول قانوني قدرت او صلاحیت څخه تېر سي، خو تش په نامه جمهور ریس پاتي سي.

همدا راز، زه ګومان کوم چي کرزي ځکه دا مسله په واشنګټن مطرحه کړه چي د هغه په ګومان واشنګټن به ددې طرحي سره مخالفت ونه کړای سي. ځکه خلیلزاد د متحده ایالاتو سفارتونه کړي دي، او د خپل سفیر سره څرګند مخالفت دیپلوماسي نده. کرزي غواړي چي پدې ترتیب هم خپل مقام وساتي، اوهم امریکایانو ته دا ثابته کړي چي لا تر اوسه د امریکا ګوداګی دی. مانا داچي هغه پخوانی خبري چي غواړي د " نورو هېوادونو " سره اړیکي ټینګي کړي، هسي د انتخاباتي مبارزي لاپي شاپي وې. دغه راز، څرنګه چي خلیلزاد د بوش د ناکامي اداری د پاتي شونو څخه دی، هغه هم په یوه کار او روزګار پسي ګرځي. د هغه لپاره یو ځل بیا په افغانستان کي مطرح کېدل، کېدای سي چي یوه بله سیاسي ډارمه او مشغولیت وي.

دغه راز، زه باور لرم چي دا مفکوره د متحده ایالاتو لپاره هم ډېره بده او کرغېړنه ده. د امریکا یو پخوانی ناکامه سفیر په افغانستان کي "صدراعظم" کېدل د ټولو منل سوېو بین المللي معیارونو پر خلاف یو عمل دی. کله چي خلیلزاد په افغانستان کي سفیر وو، هغه د افغانستان په مسایل کي دونه دخیل وو چي په تاریخ کي یې ښایي ډېر کم سارې پیدا سي. خو د خلیلزاد له دغو څرګندو مداخلو سره سره بیا هم نن ورځ ګورو چي همدغو مداخلو پرته له بدمرغیو او جنایت څخه بل هیڅ شی افغانستان په سوغات ندي را وړي. د خلیلزاد ناروا مداخلو د متحده ایالاتو ګریوان هم څیري کی. د خلیلزاد په پېر کي، د افغانستان د نوي حکومت خښته په لمړی ورځ کږه کښېښودل سوه.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

جنگسالاران، جنایتکاران، او غله معاف څه چي بلکي لوړو مقامونه ته ورسېدل. د کرزي په اداره کي د پښتنو سپکاوی او تهدید د حکومت رسمي پالیسي سوه. مهم وزارتونه د شمال ایتلاف غلو او نااهلو کسانو ته ورکړه سول. او لنډه داچي د دیرش کلن ناروین نامتو ډاکوگان د افغانانو پر برخلیک باندي حاکم سول.

بل پلو، که څه هم خلیلزاد د جهاد په پېر کي د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو په وزارت کي یو چولر مامور وو، خو هله هم د خلیلزاد روابط د اخواني او مذهبي ډلو سره خورا گرم او ژور وه. د نن ورځي په شخړو کي ددغو مذهبي ډلو گډون یوه روښانه خبره ده. دغه راز، د خلیلزاد نقش د بن په تباه کونکي کانفرانس کي هم نن ورځ ټولو ملي او خواخوږو افغانانو ته د لمر په شان روښانه ده. نن سبا، د بن کانفرانس پر خلاف د براهیمي او برتانیي د بهرنیو چارو د وزیر په گډون اکثره نور مبصرین او عالي رتبه مامورین خبري کوي. نو بنا، زه گومان کوم چي د دغه راز یو بد رکاډ درلودل د خلیلزاد د بیا راتگ چانس تر ډېره حده ناممکن کوي.

بلخوا، د اوباما اداره د قانون او نوي پېر د پیلولو خبري کوي. ښاغلي اوباما افغانستان نه یوازي نوی سفیر استولی دی، بلکي نوی قومندان یې هم ورته ټاکلی دی. د خلیلزاد لېږل د یوه نوي پېر پر خلاف اقدام دی. همدارنگه، د خلیلزاد بیا استول به په نړیواله سطح کي هم د متحده ایالاتو حیثیت ته صدمه ورسوي، او حال دا چي اوباما هڅه کوي چي د امریکا بایللی حیثیت بېرته اعاده کړي. خلیلزاد ثابته کړېده چي قانون ته چندان پابندي نلري. هغه به د قانون له چوکاټ څخه بهر کار کوي. په بل عبارت، خلیلزاد به د یوه استعماري ناظم په شان عمل کوي، او د افغانستان پارلمان به ژړي سترگي ور ته گوري. زه باور لرم چي اوباما به دا ډول سیاسي کم عقلي ونکړي. زه گومان کوم چي د خلیلزاد د "صدارت" مسله د کرزي او خلیلزاد یوه جوړه سوې دسیسه وه چي له اوله سره ناکامه وه، او یوازي او یوازي د کرزي سیاسي خامي ښیي. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de